

# د افت ضد درملو خونديتوب – پاته شوني

UCDAVIS
COLLEGE OF AGRICULTURAL & ENVIRONMENTAL SCIENCES

معلوماتي پاڼه



د عضوي موادو د کاروونکو بزګرانو د مارکيټونو شهرت پراخيږي، تر يوې اندازې د افت ضد درملو په آثارو له ککړو حاصلاتو څخه د ډډې له امله

## د افت ضد درملو پاته شوني څه دي

پاته شوني د افت ضد درملو هغو آثارو ته ويل کيږي چې پر درمل شيندلو شوو ځايونو باندي د يو څه وخت لپاره پاته کيږي. پاته کېدوني د افتونو د مخنيوي لپاره مهم دي. هرڅومره ډېر وخت چې پاته کېدوني موجود وي، په هماغه اندازه د پام وړ افتونو د مخنيوي چانس ډېر وي. که څه هم چې پاته کېدوني د انسانانو، اهلي او غير اهلي حيواناتو لپاره ضرر رسوونکي تماميداى شي.

## د افت ضد درملو پاته شوني څه وخت ضرر پيښولاى شي؟

- کله چې نباتات په تدريجي ډول د افت ضد درمل له خاوري څخه راتول کړي.
- کله چې بزګران پر هغو نباتاتو باندي درمل وپاشي چې د هغو لپاره جوړ شوي وي.
- کله چې کارګر ډېره اندازه د افت ضد درمل وکاروي.
- کله چې کارګر د حاصلاتو د راټولولو مهال ته په ډېر نږدې وخت کي دواپاشي وکړي.
- کله چې له نږدې کروندو څخه د افت ضد درمل باد راوړي او پر يوه نقطه يي راغونډ کړي.
- د حاصلاتو تر راټولولو وروسته وخت کي، که چيري د درملو اثرات پر محصولاتو باندي پاته وي.
- په ساتنځايونو، مارکيټونو او حتی خوړنځايونو کي د دواپاشی په وخت کي د افت ضد درملو د ټاپي د لارښوونو نه تعقيبول.

## د خطرناکو پاته کېدونو مخه نيول

- پر درمل شيندونکو باندي اندازي مشخصي کړئ ترڅو سمه اندازه د افت ضد درمل پر سمه اندازه ساحه باندي وشيندل شي. تر اندازي ډېر درمل مه استعمالوئ.
- په هغو ورځو کي درمل مه شيندئ چې هوا پر يوه نقطه د درملو د راټولولو باعث ګرځي (تودو + بادي).
- هغه ډول د افت ضد درمل غوره کړئ چې په چټکی سره تجزيه کيږي.
- د ټاپي لارښووني مراعات کړئ.
- پر محصول باندي د پاته کېدونو د مخنيوي لپاره د افت ضد درمل د بيده توب په وخت کي استعمال کړئ، اويا د امکان تر بريده جوړ ټاکلي مهالونه تعقيب کړئ.
- د افت ضد درملو ټانکی په احتياط سره ډکه کړئ ترڅو و څاه ته د اوبو د توييدو مخنيوی وشي (د "د افت ضد درملو خونديتوب – کډول" معلوماتي پاڼه وګورئ).

## مهمي يادوني

**د بيا کرلو محدوديتونه:** د مخکني نبات له ساحي څخه د افت ضد درملو پاته کېدوني ښايي په نوموړي ساحه کي د نورو خاصو نباتاتو تر کرلو مخکي يو موقتي ځنډ ته اړتيا ولري. د افت ضد درملو ټاپه تاسو ته در ښيي چې کوم نباتات د بيا کرلو محدوديتونه لري.

**غونډيدنه:** يعني د تکراري استعمال له امله د افت ضد درملو د پاته کېدونو کوټه کېدل. د افت ضد درمل په خاوره، تر مځکه لاندي اوبو، ناورونو او ډنډونو او ځيني وختونه په نباتاتو او حيواناتو کي غونډيداى شي.

**تجزيه \ بيرته يوځاى کېدنه:** په پوره ډول تر تجزيه کېدو او د خاورې له عناصرو سره تر ګډېدو مخکي د مشخصو افت ضد درملو تجزيه په لا ډېر زهرجن شکل سره کېداى شي ځيني خطرونه پيښ شي. د افت ضد درملو ټاپه وګورئ ترڅو د دغه ډول خطرونو مخه ونيسئ.

ترتيب کوونکي: فرانک زلوم، پات تامپسن، نهضت الله نهضت (پين)، مارک هيندرسن او مارک بيل، جولاى ۲۰۰۹

**ماخذونه:** د افت ضد درملو خوندي او اغېزناک استعمال، د کاليفورنيا پوهنتون د کرهڼيزو او طبيعي منابعو خپرونه، ۳۳۲٤ ګڼه
**د انځور کريډيټ:** [1] د عضوي موادو د کاروونکو بزګرانو مارکيټ، ساموا – مارک هيندرسن

**د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ:** نړيوال پروګرامونه: http://ip.ucdavis.edu

**د خپرولو حق د کاليفورنيا پوهنتون له ريجينټز ډاويس څانګي سره، ۲۰۱۱. ټول حقوق خوندي دي.**